مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۵/۱۲

# د خیال ننداري

پس لــــــــه عمرونو، زما یادو کې ته يي
په بنــــکلي شعر او تــــرانو کـــې، ته يي

څـه به شــــــکوه، له تنــــــهایي، وکړمه
چي مې په خـوب او په خـــیالو کې ته يي

چي زغـلوم هرې خـــوا، فکر او خیـــال
گـــورم د زړه په کنــــــارو کې ته يي

هلته چي خیــــــــال کې ننداري کومه
زما د ســـــــــترگو، نظارو کې، ته يي

په هره خوا کې، ستـــا صـــورت وینمه
په مـــــنظرو د بهـــــارو کـــــې، ته يي

وراني ویــــــجاړي به، تر څو گـــورمه
چي زمــا د زړه په ویرانو کـــــې، ته يي

چي وي له وهـــم او له خیــــــاله، اوچت
هـلـــته زمـــــا په آسمــــــانو کــې، ته يي

څنــــــــگه غافل به، ستا له یاده، زه شم
چي مې، په تیـــــرو خــاطرو کې، ته يي

هر چیرته وینمــــــه، تصـــــویر ستا د مخ
د تصــــــــور، ډکـــو جامـــو کې، ته يي

چیرته تارو ته، چي مضراب وړاندی کړم
زمــــا د ســـــازونو، په نغمـــو کې، ته يي

لنـــډه يي داچي، په هر ځــــــــــای راسره
زمـــــــــا په سترو، اوسیــــــلو کې ته يي

(نادر) دی تل دا ستــــــا، په مینــه ژوندی
چی يي د شعر، هرې مــصرو کـــې ته يي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ